مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۴/۰۳/۰۵

# د فتوی په باره کي مختصر بحث

(یوولسمه برخه)

عثمان بن عفان او د اختلافاتو پیل:

کله چي عمرفاروق له ټپي کېدلو سره سم کورته یوړل سو نو عبدالرحمن بن عوف ته یې وویل چي غواړم تا ته خلافت وسپارم. عبدالرحمن بن عوف ورته وویل په الله مي دي سوګند وي چي نه یې قبلوم. وروسته یې عثمان، علي، زبیر بن عوام او سعد بن وقاص وروغوښتل او ورته ویې ویل چي درې ورځي طلحه بن عبیدالله ته معطل سی او که هغه راغی نو ترخپل ترمنځ یو څوک خلیفه وټاکی مګر ستاسي دي په خدای قسم وي چي که هر یو خلیفه سواست خپل دوستان او خپلوان به د خلکو پراوړو نه سپروی. ابن خلدون، تاریخ ابن خلدونه ص ۵۴۰

عمر پوهېدی چي د خلافت او قدرت پرسر به جنجال او اختلاف منځته راځي نو ابوطلحه انصاري ته یې وویل چي پنځوس کسه له انصارو څخه درسره واخله او دغه کسان مجبورکړه چي په خپل منځ کي یو تن د خلیفه په حیث انتخاب کړي. مقداد بن اسود ته یې وویل چي هر کله مو زه ښخ کړم دغه کسان په یوه کوټه کي تر هغه وخته پوري بند کړه چي تر څو یې یو تن انتخاب کړی نه وي.

وروسته یې صهیب ته وویل چي درې ورځي د خلکو امامت وکړه او علي، عثمان، زبیر، سعد، عبدالرحمن بن عوف او که طلحه راغی دا ټول په یوه ځای کي سره راټول کړه. عبدالله بن عمر هم حاضر کړه مګر هغه د خلیفه کېدلو حق نه لري. د دوی ټولو نظارت کوه او وګوره که پنځه تنه پر یوه خوا وه او یوه تن یې خبره نه منله سر یې ورڅخه پرې کړه. که څلور پر یوه خوا وه او دوو تنو یې خبره نه منله د هغو دوو تنو سرونه پرې کړه او که درې تنه یوې خوا او درې تنه بلې خواته سول نو عبدالله بن عمر ته د فیصلي حق ورکړی چي په هغوی کي یو تن وټاکي. که هغوی د عبدالله بن عمر فیصله ونه منله نو بیا له هغو کسانو سره ملګري سی چي عبدالرحمن بن عوف یې ملګری دی او که څا سرکښي کول ټول ووژنی. طبري ص ۲۵۶۸

له دې شورا سره، په وروستی ورځ، طلحه بن عبیدالله هم یوځای سو. شپږکسیزي شورا، چي د اسلام په تاریخ کي یې د لومړي او وروستي ځل لپاره درې ورځي پرله پسي غونډي وکړې، او هره شپه به یې د سهار تر آذان پوري بحثونه سره کول، بالآخره عثمان بن عفان د خلیفه په حیث انتخاب کړ؛ او په اسلام کي لومړنی درز، چي په وروسته کي د اهل تشیع د بشپړ مذهب د منځته راتللو سبب سو، ایجاد سو.

عبدالرحمن بن عوف د خلیفه د نامه له اعلانولو څخه مخکي له صحابه وو څخه وغوښتل چي څوک د خلافت لایق بولی. سعیدبن زید ورته وویل چي ته پخپله د خلافت لایق یې. عبدالرحمن بن عوف وویل بل نوم هم یاد کړه. عمار یاسر وویل که غواړی چي مسلمانان اختلاف ونه کړي نو له علي سره بیعت وکړی. مقداد بن اسود وویل عمار ریشتیا وایی که له علي سره بیعت کوی نو موږ مو خبره منو. عبدالله ابن ابی سرح وویل چي که غواړی چي قریش اختلاف ونه کړي نو له عثمان سره بیعت وکړی. عبدالله بن ابی ربیعه هم د ده خبره تایید کړه. د دوی ترمنځ خبري توندي سوي او حتی پیغورونو او ښکنځلو ته ورسېدې. سعد بن ابی وقاص وویل ای عبدالرحمانه! مخکي له هغه چي فتنه جوړه سي او خلک لاسونه سره واچوي کار ختم کړه او اعلان وکړه.

عبدالرحمن بن عوف له عثمان بن عفان سره بیعت وکړ. علي وویل له هغه سره دي ډېر وخت تېر کړ او دا لومړی ځل نه دی چي زموږ پر ضد مو لاسونه سره یو کړي دي. په خدای مي دي قسم وي چي عثمان دي د دې لپاره خلیفه کړ چي بیرته یې تاته وسپاري. . . . طبري، تاریخ طبري ص ص ۲۵۷۳-۷۴

مغیره بن شعبه عبدالرحمن بن عوف ته وویل چي یا ابومحمد! ډېر ښه کار دي وکړ چي له عثمان سره دي بیعت وکړ. وروسته یې عثمان ته وویل چي که عبدالرحمن له بل چا سره بیعت کړی وای موږ به رضاییت نه وای ښودلی. عبدالرحمن ورته وویل اې یوسترګې! دروغ وایې که مي له بل چا سره بیعت کړی وای همدغه خبره دي کوله. طبري ص ۲۰۷۵

د مسلمانانو په منځ کي هغه بې اتفاقي چي حضرت رسول ص اندېښنه ورڅخه درلوده او عمر د مرګ پر بستر باندي وېره ورڅخه درلوده، هم د خلیفه د انتخابولو په شورا کي ظاهره او هم د عثمان د خلیفه کېدلو سره سم څرګنده



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پاز والي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

سوه. علي بن ابی طالب، د عثمان بن عفان د خلافت تر وروستيو ورځو پوري، له هغه سره مخالف پاته سو او عثمان يي هم هيڅ وخت پر اعتراضونو باندي غوږ ونه نيوی؛ که څه هم چي عثمان بن عفان اصلاً د چا خبره نه منله او د هر چا انتقاد ته يي منفي جواب ورکاوه.
عثمان د خپل خلافت په لومړی ورځ د لويی آزمېني سره مخامخ سو. عبيدالله بن عمر يي، چي د سعد بن ابی وقاص په کور کي بندي وو، او هُرمزان، جفينه او د ابولوءلوء لور يي په توره وژلي وه، را حاضر کړ. عثمان د مهاجرو او انصارو حاضرو کسانو څخه سوال وکړ چي له عبيدالله بن عمر سره څه وکړي؟
علي وويل زما رايه دا ده چي هغه بايد ووژل سي.
له مهاجرانو څخه يوه ړغ کړل چي پرون عمر ووژل سو او نن يي زوی قتل سي؟
عثمان وويل زه د وژل سويو کسانو ولی يم او هغوی ته د قصاص پيسي( دِيَت) له خپل مال څخه ورکوم. طبري ص ص ۲۵۸۳- ۸۴
البته ديت د قرآن شريف، د البقره سورة د ۱۷۸ او ۱۷۹ آيتونو د حکم په اساس، د مقتولينو د وارثانو د موافقي په صورت کي قبليږي. په داسي حال کي چي له هغوی څخه، په دې موضوع کي، طبعاً پوښتنه نه وه سوي او عثمان خپله فيصله صادره کړي وه. علي د قرآن د حکم مطابق فيصله کړې وه او عبيدالله بن عمر يي تر مرګه دښمن سو؛ او څه باندي دوولس کاله وروسته د علي په مقابل کي د صفين په جنګونو کي ووژل سو. علامه طه حسين په دې مسله کي ډېر بېطرفانه او ښه قضاوت کړی دی.
« د عثمان د دې اقدام په برخه کي ځيني کسان راضي او ځيني ناراضي ول. ګواکي د هغه دغي فيصلي د خلکو سره شک او ترديد پيدا کړ او خلک پر دوو برخو وويشل سول. که يي داسي فرض کړو چي په دغه وخت کي د عثمان پر ځای عمر خليفه وای او د قريشو له ځوانانو څخه ځوک د هغه عدالت ته سپارل سوی وای نو که يي پلار وای او يا يي د کورنی هر غړی وای هغه به د قرآن د حدودو سره مطابق عمل کړی وای . . . » حسين، آشوب بزرګ ص ص ۱۱۴-۱۱۵
د عثمان بن عفان د خلافت د دې لومړنی او مهمي مسلي دغه ډول حلبدلو په مدينه کي د هغه پر ضد ذهنيت ايجاد کړ او زياد بن لبيد بياضي، چي د انصارو څخه وو، يو شعر وليکی او چي هر وخت به يي عبيدالله وليدی هغه شعر به يي ورته وايه:
اي عبيدالله!
ابن اروي ( عثمان بن عفان، ځکه چي د مور نوم يي اروي وو) ستا پناه ګاه نه ده.
په الله مي دي قسم وي چي د بېګناه کسانوويني دي تويی کړي دي
او د هرمزان قتل اهميت درلود
دا قتل بېځايه او ناحقه وو، فقط يوه سري وويل
آيا هرمزان د عمر د قتل په تور نيول کېدلای سي؟
يوه بې عقل وويل چي بلي نيول کېدلای سي.
عبيدالله له دې شعر څخه دومره په تنګ سو چي عثمان ته يي شکايت وکړ او هغه زياد د دې کار څخه منع کړ خو زياد د عثمان په باره کي شعر ووايه:
اي ابوعمر ! ( اشاره عثمان ته ده) دا ومنه
چي د هرمزان خون د عبيدالله په غاړه دی
او تا په ناحقه د هغه ګناه وبخښله
او هغه حقيقتاً ګناه کار دی.
عثمان زياد بن لبيد ور وغوښت او له مديني څخه يي تبعيد کړ. طبري ص ۲۵۸۴
د مرګ پر بستر باندي، د عمر فاروق دا توصيه چي ويل يي هر ځوک چي قدرت ته ورسيږی داسي مه کوی چي خپلوان او دوستان د عربو پر اوږو سپاره کړی هسی بېځايه توصيه نه وه. پخپله عمرفاروق د خپل اقتدار، په څه باندي لس کلنه دوره کي، حتی د خپلي قبيلي بنی عدي څخه يو مهم سړی مقرر نه کړ. عمرفاروق د اشخاصو د مقررولو په وخت کي د هغوی قبيلي ته نه کتل بلکه د لياقت او ايمانداری په اساس يي خلک مقررول او کله چي به يي ځوک مقرر کړ په دونه دقت يي د هغوی د کارونو څارنه کوله چي يوه مامور يي په کارونو او اجراآتو کي کوچنی ترين انحراف او غلط حرکت نه کاوه او نه يي کولای سوای. حسين، ص ۱۲۴
عثمان بن عفان د عمرفاروق وروستنی وصيت نه يوازي عملي نه کړ بلکه په ښکنده يي د هغه په خلاف عمل وکړ. لومړنی کار يي داوو چي خپل کاکا حکم بن ابی العاص ته يي په مدينه کي د اوسېدلو اجازه ورکړه. حکم بن ابی العاص هغه سړی وو چي هم يي د جاهليت او هم يي د مسلمان کېدلو څخه وروسته حضرت پيغمبرص ته ډېر سخت آزار ورکړی وو. حتی يوه ورځ چي پيغمبرص په حجره کي ناست وو چي حکم بې اجازې ور ننووت او پيغمبر ص دونه به قار سو چي له حجرې څخه ووت او خپلو اصحابو ته يي وويل چي ( من عذيری الی هذالوزغُ ) يعني ځوک به مي د دې شرموښکی څخه خلاص کړي. او پيغمبرص بالاخره مجبور سو چي هغه له مديني څخه وباسي او ويي ويل چي هغه نه سي کولای چي زموږ سره په دې ښار کي يوځای ژوند وکړي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د حضرت پیغمبر له وفات څخه وروسته عثمان د ابوبکر څخه غوښتنه وکړه چي حکم بن ابی العاص ته اجازه ورکړي چي مدینې ته ستون سي. ابوبکر یې غوښتنه ونه منله. د عمرفاروق د خلافت په وخت کي یې څو څو ځله له هغه څخه وغوښتل چي حکم ته مدینې ته د ستندېلو اجازه ورکړي مګر عمر یې غوښتنه رد کړه خو کله چي پخپله خلیفه سو نو د لومړنیو کارونو څخه یې په مدینه کي حکم ته د اوسېدلو اجازه ورکول وه. که خلکو هرڅه اعتراضونه وکړل عثمان د چا خبره ونه منله او کله چي حکم وفات سو نو عثمان یې د احترام د پرځای کولو لپاره پر قبر باندي خېمه ورته ووهله.
د حکم یو زوی حارث یې، چي په فساد مشهور وو، د مدینې د چارو ناظر مقرر کړ او پر دې برسېره یې ډېر زیات مالونه وروبخښل او ښه یې شته من کړ. د حکم بل زوی مروان یې خپل مشاور مقرر کړ او هغه ته یې ډېري زیاتي پیسې او مالونه وبخښل.
عثمان خپل رضاعي وررور عبدالله بن سعد بن ابی سرح، چي یو وخت د پیغمبر ص منشي وو او وروسته بیرته کافر سو او مکې ته وتښتېدی او په شعرونو کي یې هر وخت پیغمبر ته اهانت کاوه او تل به یې ویل چي دی هم کولای سي د قرآن په څېر یو کتاب ولیکي او پیغمبر یې وینې مباح اعلان کړی وې؛ خو د مکې له فتحی څخه وروسته، عثمان د هغه شفاعت وکړ او له مرګه یې وژغوره او ډېر یې ونازاوه.
عبدالله بن ابی سرح د دوو لومړنیو خلفاوو په زمانه کي د حکومتي چوکۍ تصور نه سوای کولای خو عثمان هغه د مصر په څېر یوه مهم ولایت والي کړ او په افریقا کي یې د فتوحاتو په نتیجه کي لاسته راغلو غنیمتونو پنځمه برخه ور وبخښله او دا دونه شته مني وه چي د عبدالله بن ابی سرح تر پنځم نسله پوري چا تمامولای نه سوای. هغه کتاب ص ص ۳۱۳-۳۱۵
عمار بن یاسر د مکې مکرمې له ډېرو نېستمنو خلکو څخه وو او هغه وخت یې ایمان راوړی وو چي د مسلمانانو شمېر د ۳۰ تنو په شاوخوا کي وو. د عمرفاروق په زمانه کي تر ښه ډېره وخته د کوفې والي وو. عمار د بیت المال په برخه کي، د عمرفاروق د سلوک انتظار درلود او په دې برخه کي یې د عثمان بن عفان له پالیسی او سلوک سره جوړه نه سوای کولای. بالاخره یې په وازه خوله ویل چي عثمان د بیت المال له جواهراتو څخه د خپلي کورنۍ لپاره ګاڼې جوړوي او هیڅ باک یې نه کیږي. بالاخره خلک په غضب سول او عثمان یې سخت وغانده. عثمان هم په قار سو او ویل یې زه د خلکو په خبرو کي ری نه وهم او د بیت المال څخه د خپل ضرورت په اندازه مال اخلم؛ که د چا خوښه وي که نه وي زه دا کار کوم. علي په هغه مجلس کی ناست وو او په لوړ آواز یې ورته وویل چي ته هیڅ حق نه لرې د خلکو له اجازې پرته د هغوی مالونه واخلې. عمار هم د علي خبره تایید کړه. عثمان ورباندي په قار سو ویل یې اې د بالښت زو! ته هم زما په حضور کي دونه جرأت کوې؟ وروسته یې امر وکړ چي ویې نیسی؛ او بیا نو پخپله ور ولاړ سو او دونه یې وواهه چي هغه بېسده سو او د پیغمبر د مېرمني ام سلمه کور ته یې یووړ. هغه کتاب ص ۲۸۷
ابوذر غِفاري په اصحابو کي په زهد او تقوا مشهور وو او حضرت رسول ص یې په عامو مجلسونو کي څو ځله د زهد او پاکی صفت کړی وو. هغه د عمار یاسر په څېر په یوه نېستمنه کورنۍ کي زېږېدلی وو او د عمر د خلافت تر پایه پوري یې له هیڅ مقام څخه بده استفاده ونه کړه او همداسي نېسمتن پاته سو. ابوذر د عثمان پر اجراآتو باندي انتقادونه کول او په تېره بیا هغه وخت کی یې انتقادونو ته زور ورکړ چي عثمان بن عفان خپل د کاکا زوی مروان بن الحکم ته، چی خپل مشاور یې ټاکلی وو، ډېري زیاتي پیسې ورکړې. عثمان هم له ابوذر څخه په تنګ سو او شام ته یې واستاوه. ابوذر په شام کي د معاویه بن ابوصفیان قصر ولیدی او ویې لېدل چي په شام کي تر مدینې ډېر زیات فساد روان دی او د بیت المال له پیسو څخه بده استفاده کیږي؛ نو پر معاویه باندي یې ډېر سخت انتقادونه پیل کړل. معاویه عثمان ته شکایت وکړ او هغه هدایت ورکړ چي ابوذر مدینې ته ور واستوي. معاویه هم، د خلیفه له هدایته سره سم، ابوذر مدینې ته واستاوه. خو ابوذر کرار نه سو او پر عثمان یې له دې کبله انتقادونه کول چی د بیت المال پیسې په شخصي درد وهي او یا یې خپلو نیژدې کسانو ته بخښي. عثمان ورباندي په غوسه سو او هغه یې د ربذه په نوم یوه لیري پراته او له خلکو خالي کلي ته تبعید کړ. ابوذر په همدغه کلي کي اوسېدی او دونه غریب سو چي کله وفات سو نو مېرمني یې د ښخولو لګښت نه درلود. هغه کتاب ۲۷۹-۲۸۳
عبدالله بن مسعود، چي د حضرت رسول ص له مهمو کاتبانو او د قرآن شریف له حافظانو څخه وو، په لومړي سر کي د عثمان لپاره تبلیغات کول او کله چي کوفې ته ورسېدی نو خلکو ته یې وویل چي اې خلکو بهترین او مستحق ترین سړی مو د خلافت لپاره انتخاب کړی دی بیعت ورسره وکړی او د اوامرو اطاعت یې وکړی. مګر له عثمان سره هم د قرآن شریف پر جمع کولو، چي یوه نسخه یې د عبدالله بن مسعود سره وه، او هم د قرآن شریف د نورو نسخو پر سوځولو باندي مخالف سو او ضمناً یې د عثمان بېځایه بخششونو ته د انتقاد ګوته نیوله. د کوفې والي عثمان ته شکایت وکړ او عثمان مدینې ته وروباله. کله چي عبدالله بن مسعود مدینې ته ورسېدی او مسجد ته ولاړ هلته عثمان بن عفان خطبه ویله او چي عبدالله بن مسعود یې ولیدی نو وې ویل چي اوس به یو کوچنی حیوان راسی چي پر خپلو خوړو باندي قی وهي او خوري یې. ابن مسعود په زغرده ورته وویل چي زه هغه څوک یم چي د بدر په غزا کي حاضر وم او بیعت الرضوان کي د الله له پیغمبرص سره ملګری وم. زما سره دا خبري او مثالونه نه جوړیږي.
عایشې په ډېر لوړ آواز پر عثمان باندي ږغ وکړ چي عثمانه! ته څرنګه د پیغمبرص د دوست او مصاحب په باره کي داسی کلمات استعمالولای سې؟ عثمان د عایشې په اعتراض کي ری ونه واهه او امر یې وکړ چي ابن مسعود له


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مسجد څخه دباندي وباسي. د عثمان کسانو د ابن مسعود پوښتۍ ورماتي کړې. په دغه وخت کي علي پورته سو او په زوره یې ږغ کړه چي اې عثمانه! د ولید غوندي کسانو په خوله دا ډول شخصیتونه او د پیغمبر ص خدمتګار بې آبه کوې؟ هغه کتاب ص ۲۷۶

خبره دې ځای ته ورسېده چی عثمان خپلو والیانو ته وویل چي له خلکو سره سخت سلوک وکړی او رعیت موداسي وساتی چي همېشه تاسي ته محتاج وي. سعید بن عاص یې، د والي په حیث، کوفې ته واستاوه. د کوفې خلک له وسلو سره ورته راووتل او هغه یې له کوفې څخه وتلو ته مجبور کړ. عثمان د هغه پر ځای ابوموسی اشعري ور واستاوه. طبري ص ۲۲۱۵

عمروبن عاص، چي د مصر له ولایت څخه یې برطرفه کړی وو، یوه ورځ عثمان وروغوښت او سپک یې ورته وویل چي ته په ما پسي بد وایی او زما مخالفت کوې؟

عمرو ورته وویل ډېر داسي شیان دي چي خلک یې وایي او خپلو والیانو ته یې رسوي مګر هغه صحیح نه وي. اې امیرالمومنین! د خپل رعیت خدمت دي وکړه او له خدایه وبېرېږه. عمرو له عثمان څخه خوابدی سو نو عمرو به کله علي بن ابی طالب، کله زبیر بن عوام او کله طلحه بن عبیدالله ته ورتلی او د عثمان پر ضد به یې تحریکات کول.

کله چي د مصر خلکو او د عثمان مخالفینو د هغه پر کور باندي محاصره سخته کړه نو عمرو فلسطین ته ولاړ او هلته د عجلان په نوم خپل قصر کي کښېناست. هغه کتاب ص ص ۲۲۳۵-۳۶

واقدي د محمدبن عمر له قوله لیکي چي کله د هجرت ۳۴( ۶۵۵ میلادي) کال راورسېدی؛ د پیغمبرص یارانو یوه بل ته ولیکل راسی که جهاد غواړی جهاد دلته دی. خلکو د عثمان په باره کي انتقادونه زیات کړل. بالاخره خلک علی بن ابی طالب ته ورغلل او هغه عثمان ته ورغی او ورته وې ویل:

« خلک په ماپسې دي او ستا په باره کی خبري کوي، په الله مي دی قسم وي زه نه بوهېږم تاته څه ووایم. زه په داسي څه نه پوهېږم چي ته په هغه نه پوهیږې. اوداسي څه درته ویلای نه سم چي ته په هغه خبر نه یې. . . . د الله له عظمت او غضب څخه وبېرېږه او د هغه عذاب ډېر سخت دی. خدای مه کړه چي ته د دې امت یو مقتول رهبر سې او خلک ووایي چي په دې امت کي پېشوا وژل کیږي. او ستا له قتلېدلو څخه وروسته به تر قیامته پوري خلک یو بل سره وژني او جنګونه به دوام پیدا کوي. د مسلمانانو کارونه به ګډ وډ وي؛ حق به نه ویني او باطل به بریالی وي »

عثمان له خپل ځان او خپلو اجراآتو څخه دفاع وکړه او علی ته یې وویل چي ما په مهمو ځایونو کي هغه کسان ګمارلي دي چي عمربن خطاب ګمارلي ول. خو علي په جواب کي ورته وویل چي عمر د خپلو والیانو د کارونو څارنه کوله او چي له هر والي څخه خلکو شکایت کاوه هغه یې راغوښت او بازخواست یې ورڅخه کاوه؛ مګر ته هغسي نه کوې او پر خپلوانو او دوستانو دي زړه سوځې او دا ستا کمزوري ده.

علي ورته وویل چي د شام والی معاویه له عمر څخه د یوه غلام په څېر بېرېدی مګر تا خپل سر ته خوشي کړی دی او دهغه چي هرڅه زړه غواړي هغه کوي او خلکو ته وایی چي دا دعثمان هدایت دی. ته په خبر یې مګر هیڅ نه ورته وایې.

علي د عثمان له کوره را ووت او عثمان سمدستي منبر ته پورته سو او د ځان په دفاع او د خپلو مخالفینو او منتقدینو د غندلو په برخه کي یې داسی اشارې وکړې چي ټول مطلب یې علي وو. عثمان خلکو ته وویل « په الله مي دي قسم وي چي تاسي له ماڅخه په داسي شیانو کي شکایت کوی چي له عمر څخه مو نه کاوه او د هغه کارونه مو ځکه خوښ ول چي هغه تاسي پر لاسونو او پښو باندي وهلاست او بد به یې درته ویل خو تاسي د هغه هر بد او ښه کار سم باله او زه چي نرمي درسره کوم نو پر ما باندي زړه ورسوي یاست. په الله مي دي قسم وي چي زه تر نورو قوي یم. یاران مي راته نیژدې دي او لښکر مي تر نورو زیات دی او که یې را وبولم نو رابه سي. ستاسي په څېر کسان مي ستاسي مقابلې ته تیار کړي دي او شمېر یې ترتاسي زیات دی. . . . » طبري ص ۲۲۱۲- ۱۴

هغسي چي عثمان فکر کاوه، خلک د هغه له تهدید څخه ونه بېرېدل. د بصرې، کوفې او مصر خلکو شکایتونو او د عثمان پر کړنو باندي خپلو تبلیغاتو ته زور ورکړ او ډېر زیات کسان یې مدینې ته راغلل. د جمعې په یوه ورځ چي عثمان خطبه ویل او پر خلکو یې ږغ وکړ چي اې زما مخالفینو! د خدای روی ته وګوری! د مدینې خلک پوهیږي چي تاسي د محمد صلی الله علیه وسلم په خوله لعنت سوي یاست. خطا لاره پرېږدی او د صواب لاره واخلی . . .

په دغه وخت کي په مسجد کي د عثمان د طرفدارانو او مخالفینو ترمنځ شور او ږوږ جوړ سو او مخالفینو پر عثمان باندي رېګ وپاشل؛ هغه له منبره ولوېدی او بېسده سو او دوستانو یې تر کوره پوری ورساوه. هغه کتاب ص ۲۲۳۲

د مصر څخه د عثمان د مخالفینو څو ډلي د عمرې په پلمه د مدینې سره نیژدې د ذی خشب په نوم کلي ته ورسېدل او هلته یې مرکز جوړ کړ. عثمان له علي څخه وغوښتل چي کوښښ وکړي دا کسان بیرته مصر ته ستانه سي او له شورښ او مخالفتونو څخه لاس واخلي عثمان وویل چي دا کسان زما پر کور باندي د حملې په نیت راغلي دي. زه پوهېږم چي هغوی تاته د قدر په سترګه ګوري او ستا پر خبره غوږ نیسي. دوی مدینې ته له ننوتلو څخه وګرځوه. زه نه غواړم چي دوی مدینې ته راسي او نور کسان هم ورسره زړه ورسي.

علي ورته وویل چي دوی مدینې ته له ننوتلو څخه وګرځوم د څشي لپاره؟

عثمان ورته وویل چي نور به زه ستا په اشاره کار کوم او ستا له هدایت څخه به سرغړونه نه کوم.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

علي ورته وويل دا خبري موڅو ځله در سره کړي دي. زما سره دي وعدې کړي دي خو چي زه ستا له کوره تللی یم بیرته هغه آش او هغه کاسه وي. تا هر وخت د مروان بن حکم، سعید بن عاص، ابن عامر او معاویه په قول کړي دي او زما پر خبره دي غوږ نه دی نیولی.
عثمان ورته وویل چي په آینده کي دهغوی خبره نه منم او یوازی ستا پر خبره به غوږ نیسم. هغه کتاب ص ۲۲۴۰
واکمنان تل د خپلو بدو او نالایقو سلاکارانو او غوړه مالانو له لاسه تباه کیږي. عثمان بن عفان هم ځیني داسي سلاکاران درلودل چي یوازي خپلي شخصي ګټي یې په نظر کي نیولي وې او عثمان هم زیاتره وختونه د هغوی په غلطو مشورو عمل کاوه. کله چي علي له مصریانو سره خبري وکړې او هغوی یې د مدینې د اطرافو پرېښودلو او له ښورښ څخه لاس اخیستلو ته تشویق کړل او هغوی د مدینې پر لور روان سول نو د عثمان د کاکا زوی او نیژدې سلاکار مروان بن حکم عثمان ته وویل چي مصریان ولاړل؛ اوس نو خلکو ته وینا وکړه او ورتهووایه چي هغوی د خپل پیشوا په باره کي غلطی خبري اورېدلي وې. په دې توګه به خلک قانع سي او د ولایاتو څخه به خلک ستا د ملاتړ لپاره راسي. ویل کیږي چي عثمان د مروان خبره ونه منله خو هغه دونه ټینګار وکړ چي عثمان یې وینا کولو ته مجبور کړ. عثمان هم په مسجد کي همدا خبره وکړه او وې ویل چي مصریانو چي د ده په باره کي آوازې اورېدلي وې هغه غلطي وې نو ځکه خپل ولایت ته ستانه سول.
وایي چي عمرو بن عاص د مسجد له یوې ګوښې څخه ورباندي ږغ کړل چي عثمانه له خدایه وبېرېږه ډیري لویی ګناه وي دي کړي دي موږ هم ستا سره ګناه وي کړي دي ته توبه وکړه او موږ به هم ستا سره توبه وکړو.
عثمان په ډېر عصبانیت ور باندي ږغ کړل چي اې د فاحشې زویه! ته هم دلته یې؟ په خدای مي دی قسم وي له هغي ورځي چي له کاره مي برطرفه کړی یې بې طاقته سوی یې.
په دغه وخت کي د مسجد له بلي ګوښې څخه خلکو ږغ کړل چي عثمانه! توبه وباسه څو خلک ستا له مخالفته لاس واخلي.
وایي چي عثمان مخ پر قبله دواړه لاسونه پورته کړل او ویل یې خدایه! زه لومړنی کس یم چي تاته توبه وباسم. وروسته خپل کورته ولاړ او عمرو بن عاص هم مخ پر فلسطین روان سواو ویل یې په خدای مي دي قسم وي چي شپانه هم ووینم د عثمان پر ضد به یې لمسوم. هغه کتاب ص ۲۲۴۵
علي له مصریانو سره خبري وکړې او هغوی یې په دې قانع کړل چي بیرته مصر ته ستانه سي او د دوی ټولي غوښتني به ومنل سي. مصریانو هم د علي مشوره ومنله او د مدینې له ښار او شاوخوا څخه ووتل او د مصر پر لور یې حرکت وکړ. هغوی څو ورځي وروسته بیرته مدینې ته ستانه سول او ادعا یې کوله چي په لاره کي یې د عثمان له قاصد سره یو مکتوب نیولی دی چي په هغه کي عثمان د مصر والي ته هدایت ورکړی وو چي د ښورښیانو مشران قتل کړي. دوی نور د عثمان په خبره باور نه لرل او هغه باید له خلافت څخه خلع سي.
په زړه پوري خبره دا ده چي عثمان خپل مخالفین کافران بولي او مخالفین یې د عثمان پر ضد حرکت د قرآن شریف په آیتونو توجیه کوي. عثمان د شام والي معاویه بن ابوسفیان ته ولیکل:
بسم الله الرحمن الرحیم.
« اما بعد. د مدینې خلک کافران سوي دي . له اطاعت څخه یې لاس اخیستی او پیمان یې مات کړی دی. د شام له جنګیالیو څخه چي دي هر څونه وس کیږي او په هره وسیله چي کیږي را واستوه»
وایی چي معاویه ځکه د جنګیالیو د لیږلو په کار کي ځنډ کاوه چي نه یې غوښتل د پیغمبرص له یارانو سره، چي د مخالفینو په صفوفو کي ول، مخامخ سي. عثمان وروسته یزید بن اسد بن کرز ته لیک واستاوه او د مرستي غوښتنه یې ورڅخه وکړه خو هغه تر څو مدینې ته رسېدی په لاره کی د عثمان د قتلېدلو اطلاع ورته ورسېده او بیرته ستون سو.
عبدالله بن زبیر د خپل پلار له قوله وایی چي د مصر خلکو د مدینې سره نیژدې کلي څخه عثمان ته، د یوه تن په لاس، لیک واستاوه. عثمان جواب ورنه کړ او هغه قاصد یې په زور له کوره وایست. د مصریانو مشر عمروبن بدیل بن ورقا خزاعي وو چي د پیغمبر له اصحابو څخه وو. او عثمان ته یې لیکلي وه:
« بسم الله الرحمن الرحیم.
اما بعد، پوه سه چي الله د هیڅ قوم وضع ته تر هغه وخته پوري تغییر نه ورکوي تر څو چی هغه قوم پخپله په ځان تغییر رانه ولي. د الله روی ته وګوره او بیا هم د الله روی ته وګوره! اوس چي دنیا لرې نو آخرت هم ورسره پیوند کړه او د خپل اخرت نصیب مه هېروه. پوه سه، په الله مو دي قسم وي، چي موږ د الله په خاطر په قار سوی یو او د الله په خاطر خوشاله کیږو او تر هغه وخته پوري به توري په تېکي دننه نه کړو تر څو چي ستا له توبې یا څرګندي ګمراهی څخه له لاس اخیستلو خبر نه سو. ستا سره زموږ خبره او دعوا دغه ده او الله موږ ستا سره په جنګ کي معذور کړي یو» هغه کتاب ص ص ۲۲۵۲-۲۲۵۳
عثمان ته له شام او نورو سیمو څخه هیڅ مرسته ونه رسېدله او له مخالفینو سره یې دونه قوت موجود وو چي د ده کور یې محاصره کړ. محاصره کوونکو له عثمان سره خبري وکړې او خپل ډېر ساده شرایط یې ورته بیان کړل. هغوی عثمان ته وویل چي موږ له تا سره نور غرض نه لرو ته فقط خپل فاسق والیان او حاکمان برطرف کړه او پر ځای باندي یې امین کسان وګوماره او چي پر موږ باندي څه ظلمونه سوی دي کفاره یې راکړه.
عثمان وویل زه چي ستاسي له خوښی سره سم کسان مقرر کړم نو بیا زما د خلافت صلاحیت او وظیفه څه سوه؟


maqalat@afghan-german.de افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

هغوی ورته وویل چي یا زموږ غوښتني عملي کړه او کنه نو په الله مو دي قسم وي چي یا دی خلع کوو او یا دی وژنو. مګر عثمان ونه منله او ویل یې هغه جامه چي خالق په ما اغوستي ده نه یې سم ایستلای. محاصرې څلوېښت ورځي دوام وکړ. او عثمان ترپایه پر دې خبري ټینګ وو چي غاړه مي پرې کوي هم له خلافت څخه استعفی ته نه حاضرېږم. او که مو زه مړ کړلم په الله مي دي قسم وي چي که بیا د اتفاق مخ ووینئ او یا یو ځای لمونځ سره وکړئ. د مصریانو استازی مالک بن حارث اشتر ولاړ سو او له کوره ووت. څو ورځي وروسته د عثمان پر کور باندي حمله پیل سوه. محمدبن ابوبکر له دیارلسو کسانو سره د عثمان خوني ته ورغی. عثمان یې تر ږیره ونیوی او هغه ناري وهلې چي وراره زما ږیره پرېږده! او وروسته یې په ټولو عثمان وواژه. هغه کتاب ص ص ۲۲۵۶-۲۲۵۸
په دې توګه د عثمان خلافت په تراژیدي سره پای ته ورسېدی او لکه څرنګه چي ده پېش بیني کړې وه او هر چا ته څرګنده هم وه چي د خلیفه له قتلېدلو څخه وروسته به مسلمانان بیا د خیر مخ ونه ویني او تر قیامته به یو پر بل توري راباسي هماغسي وسوه.
اسلامی مورخین د عثمان قتل لومړی فتنه بولي؛ خو زه یې د فتنو مور یا اُمُّ الفِتَن بولم. ځکه چي د هغه له قتلېدلو څخه څو میاشتي وروسته د جمل او په هغه پسي د علي او خوارجو او علي او معاویه تر منځ د صُفین جنګونه او د همدغو وروستیو جنګونو په جریان کي په مصر کي د معاویه او علي د طرفدارانو ترمنځ جنګونه وسول او په دې ټولو جنګونو کی تر سل زره زیات مسلمان ځوانان قتل سول، چي باید د خپلو مخالفینو کفارو په جنګونو کی شهیدان سوي یا غازیان سوي وای. په زړه پوری خبره دا ده چي هري ډلي شعار ورکاوه چي مخالفین یې منحرف سوي او د الله له لاري څخه اوښتي دي او د دوی جنګ د جهاد په مقصد دی.

پاته لري

[په افغان جرمن آنلاین کی پورتال د لیکوال آرشیف]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ